۲۰۱۶/۰۴/۰۴

خالق رشید

# پرخارجيانو سپي ګران وي...

موږ په هغو کالونو کې ډیر کوچنیان وو، چې کلیوالو به له یوه او بل سره ویل چې د ګلندامي ترور خاوند په لشکرګاه او بکوا کې له امریکایانو سره د هغو په کمپنۍ کې کارکوي. موږ پر هغه مهال د امریکایانو په با ب دومره پوهیدو چې سرونه یې لوڅ وي، پګړۍ نه وهي او خولۍ نه په سروي، لمونځ نه کوي، شراب خوري او داسې نورې چې دلته اوس د ویلو وړ نه دي. یو شمیر سپین ږیرو خو به دا خبره هم کوله چې کافران هم دي، تر پیریانو بدتردي، په دې چې داسې شیان جوړوي چې د عقل ملا ورته ماتیږي. دا موټر وګورئ، دا الوتکې وګورئ او ترې لا مهمه دا چې اوس یې داسې شی جوړکړی چې د دنیا په یوه سرکې خبرې کوي او په بل سرکې یې خلک اوري ...
دا ټولې خبرې وې چې موږ به پر هغه مهال د دوی په باره کې اوریدې او په دې خبره خورا اندیښمن وو چې د ګلندامي ترور خاوند میر اوغان به له داسې خلکو سره په کوم شان ناسته ولاړه کوي، په کوم شان به خبرې ورسره کوي او کوم، کوم شیان به دی ورسره خوري؟ داټولې خبرې به موږ ماشومانو په خپل منځ کې سره ویلې او د چا خبره ماشومانه بنډار به مو پرې تود و. یو مهال کلیوالو ته چا دا خبره هم د ده په باب کړې وه، چې:
ـ میر اوغان را روان دی، هغه اوس ډیر شیان زده کړي، پخوا به د کارګرانو په منځ کې په جمعدار باندې مشهور و، خو اوس یې ترقي کړې او ګرده یې منډیس میراوغان بولي. موټر یې هم زده دی، په زیاتو نورو شیانوباندې یې هم ځان ملا کړی دی...
همدغو تودو خبرو او آوازو زموږ تلوسه هم زیاته کړې وه او دا مو هیله وه چې خدای یې زر زر راولي، چې د چا خبره په خوند خوند یې یو ځل وګورو. موږ په دې هم خوشاله وو، چې ځه یاره زموږ په کلي کې هم دومره یو څوک شته چې د داسې خلکو سره یې ناسته پاسته ده چې هغوی موټرونه او الوتکې جوړوي. موږ په همدغه خبره باندې خوشاله وو، زموږ کلیوال هم داسې وو، خو یوازې جمعه ګل لالا به کله نا کله یو ځای او بل ځای هغه هم په ډیر احتیاط سره دا خبره کوله چې:
- میراوغان نور د غرونو و او د غرونو شو، هغه له امریکایانو سره شراب خوري ... زه په دې هم خبر یم چې هغه یې د یوې لنډې مودې لپاره امریکا ته هم لیږلی دی...
د پسرلي شپو ورځو ته څه موده پاتې وه، موږ د ژمي دري میاشتې په جومات کې په ملایي درسونو باندې ځانونه په خوند ستومانه کړي وو او دا دعاوې مو کولې چې زر ښوونځي پیل شي او د ملا د درنو سوټیو له غمه بې غمه شو، ما نا دا چې د ښوونکي سوکان مو د ملا تر سوټیو په خپله آسانتیا کې شمیرل او پرې خوشاله وو.
په همدغو شپو کې میراوغان کاکا هم له اوږدې مساپرۍ وروسته راغی، ربښتیا هم چې هغه زیات او جالب شیان زده کړي وو او زیات شیان یې له ځان سره هم راوړي وو. دی او لنې څوک و چې زموږ کلي ته یې د ږیرې خریلو ماشین راوو ړ، دا نو دومره جالب شي و چې لویو او واړو د ثواب او عذاب خبره له یاده ایستلې وه، ګردو د میراوغان اکا په ماشین باندې خپلې ږیرې چټې پټې کړې، زموږ ملا صاحب چا پر دغه لویه ګناه باندې خبر کړ، په پیل کې خو سره سور او شین شو، خو کله چې میراوغان اکا څه سوغات موغات ور تیر کړل، نو بیا یې دا پزه خپل سور والي او شین والي ته جوړه کړه او ویل به یې چې دا هلکان کال بل کال هسې هم عسکرۍ ته روان دي، هلته پرته له دی هم ږیرې پرې خریږي...
میراوغان اکا ټول شیان له ځان سره راوړي وو، رادیویې هم راوړې وه، ملاصاحب ورته ویلي وو چې یوازې جومات ته به یې دننه نه راوړي، نور دی پوهیږي او کار یې...
موږ به ټوله ورځ پر ده پسې روان وو او د ده خولې ته به مو سترګې او غوږونه تږي، ترې کیدل چې یو نوې او د پاملرنې وړ خبره ترې واورو. د ده دا یوه خبره اوس موږ ته معلومه شوې وه، چې په کلي کې به هر چا کوم ښه او یا بد کار وکړ، نو ده به بیا تبصره پرې کوله، او هغه به یې په امریکایی تله کې تاله، یوه ورځ مدعلم اکا د کلي په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دروازه کې سپي په ډېره و ویشت، د ده خوا زیاته پرې شنه شوه، هغه یې پوره یو ساعت درولي و او همدا خبره یې ورته تکراروله:
ـ داسي ظلم سړی نه کوي، ته که اوس په امریکا کې وای، نو بې سوال او ځوابه زندان ته تلې، هلته که ربنتیا در ته و وایم خلک داسي نه دي لکه موږ، هغوی د خپلو سپیو ډیر قدر کوي، زیات یې نازوي او ان چې خپله تنخوا نیمه د هغوی لپاره خرڅوي ... پام چې نور دا ډول ظلم پر سپیو و نه کړې...
موږ ته د میراوغان ماما دا خبره ګرد سره د حیرانیتا وړ خبره وه، موږ به د ده پر دغو خبرو چې د سپیو په باب وې خندل، او کله، کله خو ب درواغ راته ښکاریدې ... د ده په عجایباتو کې، هغه چې موږ ته اوس معلوم شوي وو او یا مو شمیرلي وو تر لس او یوولس داسي خبرې وې چې هغه ګردې له سپیو سره تړلې وې، هغه چې سره ویلې به یې :
-امریکایان خپل سپي خورا ښه ساتي او زیات قدر یې کوي...
داهم د ده خبره ده چې ویل یې، یوه ورځ زموږ په چم ګاونډ کې د یو چا مور په کلي کې مړه شوې وه، کوم خپلوان ده ته د مړیني له امله تلیفون کړی و، چې باید زر تر زره ځان کورته ور ورسوي، چې ګواکي مور یې مړه ده، خو ده په ځواب کې ورته ویلي وو چې نن او سبا زما درتګ شونی نه دی، ځکه چې سپي مي ناروغه دی، د هغه لپاره مي د حیواناتو له ډاکتر سره اپاینتمنت اخستی دی، سبا که هغه یو څه ښه و، بیا به درشم...
یوه بله خبره هم د ده په هغو کې موږ له ځان سره ثبت کړې وه چې ویل به یې: خارجیان، په تیره بیا امریکایان زموږ د (تازي) سپو خورا شوقیان دی، کله چې د تازي نوم اوري، نو پسې مري...
خو په یوه خبره یې موږ تر ډیرو پورې نه پوهیدو، چې ده به ویل:
ـ پدرکرده به وي ... وروسته په دي هم موږ پوه شوو چې مانا یې دا وه چې ګواکي اصیل به وي...
او له همدغه مهاله وروسته موږ نور خپلو تازیانو ته لکه د نورو سپو په شان نه کتل...
او وروستی خبره به چې ده په دغه اړه کوله هغه دا وه چې ده به ویل چې که غواړئ د خارجی عزت وکړئ، نو تر ده به یې سپي ته عزت ورکوئ، ځکه دوی د سپي په باره کې دومره خوا خوږي او فدا کاره دي چې پوښتنه ترې وکړې چې تر اوسه دې څو ودونه کړي، نو تردوو او دریو به کم درته ونه وایي، خو که ورته و وایې چې دا د څوم سپي دي، نو هیله به درنه وکړي چې دعا کوه چې څه پرې ونه شي، دا مي اولنی دی او غواړم چې دي مي ګرد عمر مل وي...
د خدای کارونه وو، موږ له کلیوالي ښوونځیو ښاروته راغلو، دلته مو زده کړې وکړې، دلته مو پوهنتونونه ولوستل، خارج ته لاړو، له خارجیانو سره مو ناستې پاستې پیداشوې، خو یو شي چې موږ به تل له خارجیانو سره لیدل او زموږ به یې هم شوق را پاراوه، هغه د دوی همدغه له سپیو سره مینه وه او ده، زما اوسني ګاونډي دری سپي لري ، د میاشتي ټوله تنخوا پر همدوی باندې خوري، دومره ورسره سرګردانه دي چې ته به وایې دری اولادونه ور د غاړې دي، که ربنتیا ووایم، پر ځان دومره فکرنه کوي لکه چې په سپیو یې وي...
هر سهار چې لا کور ته نژدې لوی چمن ته رسیدلی نه و م چې بیا یې د یوه نه یوه ځنځیر ماته راکړي وي او راته وایي چې دلته بې سپیو چکر وهل خوند نه کوي، ځکه نو له ماسره زموږ په خبره ځواني کوي او د سپي په لرلو سره مي نورو لارویانو ته لوړ ښیي، خو زما لویه ستونزه داده چې کوم ناز چې دي خپلو سپیو ته ورکوي، زه پر هغو ټولو شیانو چې د ده په چم ګاونډ کې اوسیږم شرمیږم... هو، داسي چې کله کله ان سهار مهالي چکر هم پریږدم او نه ورځم ... خو په دغه حال کې مي هم نه پریږدي او تر ګوډ مارننګ یې د مخه د سپي ځنځیر راته نیولي وي. زه اوس غواړم چې د ده له لاسه خپل کور بدل کړم او یوه بل کورته ولاړشم. زما دا ګاونډی بل شان په خپلو سپو مین دی، زه اوس بل کار نه لرم، ټوله ورځ د همدغي لیونی مینې په باره کې سوچم، دومره چې ان میر اوغان اکا را یاد شی او د سپو په باب د هغه د امریکایانو کیسي، هغه کیسي چې ده به موږ ته ان هغه مهال ویلي او موږ ته د نه منلووړوې، زه چې اوس خپل ګاونډي ګورم، نو میراوغان اکا او د دغو خلکو له سپو سره د مینې خبرې را يادې شي، دومره په کې ډوب شم، چې فکرکوم، اوس هم میراوغان اکا مخامخ راته ناست دی او را ته وایي:
ـ اوس پوه شوې چې دوی د خپلو سپیو څومره عزت کوي، پام چې چیرې او کله هغوی ته په سپکه سترګه و نه ګورې ... هو، پام ... پام... پام... !!! ؟
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ